ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-19

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**محمد نسیم ترین**
لیکچرر، پشتو ڈیپارٹمنٹ یونیورسٹی آف بلوچستان
معاون: پروفیسر ڈاکٹر نصیب اللہ سیماب، پشتو ڈیپارٹمنٹ یونیورسٹی آف بلوچستان

# په پښتو ادب کښي د ژباړي ابتدا

**Muhammad Naseem Tareen**
Lecturer, Pashto Department, University of Balochistan Quetta.
**Professor Doctor Naseeb ullah Seemab**
Pashto Department, University of Balochistan Quetta
***Corresponding Author:**

## The Beginning of Translation in Pashto Literature

In the development of literature where there are many factors, the role of translation is also prominent. In the development of Pashto literature, the process of translation is also very important. From the beginning of Pashto literature to the present time, the translation has shown great excellence in all the periods that have passed. In this research paper, an attempt has been made to briefly review the role of translation in the development of Pashto literature. Especially in this research we discuss about the beginning of Translation in Pashto literature.

**Key Words:** *Pashto , Literature ,Translation.*

کله چې موږ په پښتو ادب کي د ژباړي د ابتدا خبره کوؤ نو موږته په زاړه ادب کښي داسي ژباړي په نظر راځي چي د شعر ښخه په شعر کښي سوي دي ،تر دې له مخه چي موږ د ژباړي د ابتدا خبره کوو ، پښتو ادب ته زيات شمېر اصناف د ژباړي د لاري راغلي دي ،هغه که شعري اصناف دي که نثري اصناف دي ـ په پښتو کي د اولسي اصنافو ښخه علاوه زياتره ادبي اصناف د ژباړي د لاري راغلي دي ـ د ژباړي د ابتدا په اړه اکثره محقيقن په يوه خوله دي، او يوازنی تکيه د پټي خزانې پر راوړل سوو حکاياتو باندي ده ، چي په پښتو ادب کښي د پټي خزانې نه لومړی بل څه داسي اثر په ادبي ميدان کښي موجوده نسته ،چي محقيقن استفاده ځيني وکړي او د حوالې په توګه يې وکاروي ـ

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-19



"ادبپوهان وايي ژباړه پښتو ادب ته په دربيمي سپوږميزي پيړۍ کې راغلي چې هغه هم د نظم يا شعر له لاري ده او لومړنی ژباړه د محمد هاشم سرواني ژباړلی شعر يا بوالله ده چې د خپل يو عرب استاد ابن خلاد له تولګي څخه يې ژباړلي ـ" (۱)

کومه ژباړه چې په پښتو ادب کښي لومړنۍ ژباړه بلل کيږي هغه ژباړه د عربي اشعارو ژباړه ده چې شعر په شعر کښي ژباړل سوی دی ،په هغه وخت کښي په پښتو کښي داسي ژباړه کېدل د دې خبري غمازي کوي چې د مذکوره ژباړه لومړۍ ژباړه نه ده ولي چې په اول ځل دومره پخه او په تول تللې ژباړه په لومړي وار څنګه کېداۍ سي ،ګمان کيږي چې له دې وړاندې به هم ژباړې سوې وي او د هم دغه ژباړن تر نظر به تيري سوي وي ،خو دا بيله خبره ده چې په پښتو ادب کي د پټي خزانې پرته بل څه په لاس کي نه لرو ـ

زموږ دا دعوه چې هر وخت اوهر څوک يې کوي چې د پښتو ادبي تاريخ د امير کروړ نه مخکي نسته ،يا زموږ په لاس کي نسته ،او د ژباړي په اړه داسي يوه رائې جوړه سوه ده چې د هاشم سرواني ژباړه لومړۍ ژباړه ده ،خو سر محقق محمد صديق روهي يوه نوې خبره کوي

"البته په دې وروستيو وختو کښي داسي اسناد لاس ته راغلي دي چې وايي د (۱۵۰ ق ،م ) په حدودو کې د (مالنده پنو) په نامه يو کتاب په پښتو ژبه کښل شوی و،دغه کتاب په پالي ژبه ترجمه شوی دی او په هغه کي يادونه شوې ده چې نوموړی کتاب له پښتو ژبي نه ژباړل سوی دی "(۲)

د دې خبري په تناظر کښي موږ وئيلائي سو چي پښتو ادب د اسلام نه مخکښي هم د يو کتاب په بڼه کښي وجود درلودئ ،چې د يوې ژبي ادب و کتابي بڼي ته رسيږي معلومه خبره ده ادبي پانګه بې درنه او معياري وي ،د معيار اندازه يي له دې معلوميږي چې هم دغه کتاب و بلي ژبي ته ژباړل کيږي ، ولي چې کله هم د هغه کتاب ژباړه نه کيږي چې معيار وه نه لري ،له دي څخه يوه بله دا خبره څرګنديږي چې د ژباړي ميدان له ډېره وخته په پښتو ژبه کښي موجود دئ ،که د پښتو ژبي څخه ژباړه کيږي که د نورو ژبو څخه و پښتو ته ژباړه کيږي ،موږ يوه نتيجه ځيني اخستلائي سو د پښتو ژبي ادب له ژباړې د صنف سره آشنائي لري ،زموږ هغه خبره چې هاشم سروانی د پښتو ژبي لومړی ژباړن نه دی نوره هم قوي کيږي خو موږ دا په ډاګه وئيلائي سو چې هاشم سرواني نوري ژباړي هم ليدلي وې ځکه يې په ژباړه سره ابتدا کړې ده ،له داسي تحقيق څخه دپښتو ژبي د تاريخ په اړه چې کومې مفروضې اټکل کيږي ،هغه ورو ورو د مثبتې نتيجې و لور ته سفر کوي ـ

تر دې له مخه چې پر دې ژباړه باندې بحث وکو، لومړی يوه خبره د يادولو وړ ده هغه دا چې اکثره محققن د پښتو ژبي لومړی ژباړن ابو هاشم

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-19
ماخذ تحقیقی مجلہ

سرواني ګڼي ،خو ځيني ليکوالان زرغونه لومړۍ ژباړنه بولي چي منظومه ژباړه يي کړي ده ،د کوم کتاب په حواله چي دا خبره کوي هغه په خپله په مذکوره کتاب کښي داسي نه ده لکه څنګه چي دغه ليکوال خبره کوي "پٹہ خزانہ کی روایت کے مطابق پشتو میں اولین منظوم ترجمہ بوستان سعدی کا ہے جو ۹۰۳ھ /۱۴۹۷ میں ایک پشتون شاعرہ زرغونہ کے زور قلم کا نتیجہ ہے اس ترجے کا تذکرہ محمد ہوتک ابن داود نے زرغونہ کے احوال میں کیا ہے۔"(۳)

ژباړه :(د پټي خزانې د روايت له مخي په پښتو کښي لومړۍ منظومه ژباړه د سعدي د بوستان ده چي ۹۰۳ ، ۱۴۹۷ کښي يوې پښتنې شاعرې زرغونې په قلم سوې ده د دې ژباړې ذکر محمد هوتک ابن داود د زرغونې په اړه کړی دی ۔)

د هم دې خبرې په اړه يونه بلکې ښېخي زيات هغه محققين چي د تاريخ په اړه يې پلټنې کړې دي ،يا يې د زاړه ادب په هکله کار کړی دی تول په دې عقيده دي چي د پښتو ژبې لومړۍ ژباړه د هاشم سرواني ده ۔

"په پښتو ژبه کښي د ژباړې لومړنی څرک هغه وخت ته رسيږي چي ابو محمدهاشم د زيد سرواني البستي زوی د خپل استاد يو عربي شعر په پښتو نظم و ژباړه او دا نظم د پټې خزانې مولف محمد هوتک د شيخ کټه له لرغوني پښتانه څخه را نقل کړ" (۴)

په پټه خزانه نومي کتاب کښي د زرغونې په اړه کله هم دا خبره نسته چي چي دا د پښتو ژبې لومړۍ ژباړنه ده ۔

"ماته هسې نقل کا زما پلار :چي زرغونې د شيخ مصلح الدين سعدي کتاب د بوستان ټول په پښتو شعر نظم کا ،او نوم (۱۰۴) ئې ؤ "بوستان د پښتو " چي دا کتاب ئې په سنه (۹۰۳) هجري قدسي پائ ته ورساوه ،او ټول نکات عارفانه ،او نصائح حکيمانه ئې په پښتو کړل ۔" (۵)

پښتو ژبې ته ژباړې په لومړي سر کښي د عربي ،فارسي يا اردو ژبې د لاري راغلي دي ،اردو ژبې که تاريخي څېړنه وکتل سي ، د پښتو ژبې په مقابل کښي کېدائي سي چي دومره سابقه نه ولري لکه څومره چي پښتو ژبه يې لري خو مقتدري ژبې په سبب د اردو ژبې څخه ژباړې وپښتو ژبې ته سوي دي،په هم دې خطه کښي د فارسي ژبې تاريخ تر ډېره ځائي پوري زوړ معلومېږي ،او وخت په وخت د دربار ژبه پاته سوې ده ، د علمي ژبې په سبب نورو ژبو د ژباړه په صورت کښي استفاده ځيني کړې ده ،خو کله چي د پښتنو وسيمي ته اسلام راغلی دی بيا پر پښتو ادب د عربي ژبې اثرات زيات سوي دي ۔

"کله چي د پښتنو سيمو ته د اسلام وړانګي راغلي او دلته پښتنو اسلامي تعليمات وکړل او هم ئې له عربي ژبې سره آشنايي پيدا شوې نو پښتانه هم ترې متاثره شوي ، پۀ ړومبي سر کښي پښتنو يو شمېر ديني مسايل او احاديث له

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-19
ماخذ تحقیقی مجلہ

عربي پښتو ته رانقل کړل او بيا پۀ تولو برخو کښي دغه کار تر سره شو،په دي توګه شاعران هم اړ شول چي پۀ علمي لحاظ د عربي متابعت وکړي ځکه چي د نړۍ په کچه عربي ژبه د اسلام د ښکلي دين د ژبي په حثيت پۀ علمي لحاظ ډېره غني ګڼل کېده ،نو پۀ همدې ډول مسلمانان اړ و چي په اسلامي ژبه بيان شوي اشعار پۀ پښتو ژبه بيان کړي راوئي ژباړي او يائي هم مفهوم پۀ پښتو ژبه راواړوي"(۶)

د عراقي ژبي د وتلي شاعر ابن خلاد هغه اشعار د پاخه دليل په توګه دلته راوړو ،کوم اشعار چي ابو هاشم سرواني ژباړلي دي ،دغه اشعار تقريبا سل کاله شاه خوا د امير کروړ د وياړني ځخه ياديږي ،

"من کان يملک درهمين تعلمت　　　شفاه انواع الکلام فقالا
و تقدم الفصحا فاستمعوا له　　　ورايته بين الورى مختا لا
لولا درهمه اللتى فى کيسته　　　لر ايته شرالبريه حا لا
ان الغني اذا تکلم کاذبا　　　قالو ا صداقت و ما نطقت محالا
و اذا لفقير اصاب قالو الم تصب　　　وکذبت يا هذا وقلت ضلا لا
ان الدرهم فى المواطن کلها　　　تکنو الرجال مهابته و جلا لا
فهى اللسان لمن اراد فصاحته　　　وهى السلاح اراد قتالا "(۷)

ژباړه : د چاسره چي دوه درهمه وي د هغه د خولي څه هر ډول خبري راوځي

که څه هم فصيح خلګ تر دى لوئي وي او هغه دى ړوند بولي مګر زه دى وينم چي د خلګو په منځ کښي درواغ وائي -

که چيري هغه دوه درهمه نه وي د دى سره چي په جيب کي دي نو تاسو به ليدلائي چي دى به د دنيا ذليل سړى وائي -

شتمن سړى که درواغ هم وائي نو خلګ وائي چي رښتيا وائي تا کله هم درواغ نه دي وئيلي -

او که غريب سړى سمه خبره کوي نو خلګ وائي چي درواغجنه ، څه چي دي وئيل ټول دي غلط وئيل -

د درهم کار هم دغه دى چي پر هر ځائ و خلګو ته د رعب او عزت جامه ورآغوندي -

چي فصاحت غواړي ،د غه درهم د دى لپاره د ژبي حثيت لري او چي په جنګ کښي کاميابي غواړي دغه درهم د هغه لپاره د اسلحي کار کوي -

کومه ژباړه چي موږ لومړى ژباړه بولو د پټي خزاني په توسط سره تر موږه پوري رار سېدلي ده ،هغه ژباړه په لاندي ډول ده -

" ژبه هم ښه وينا کاندي چي يي　　　د خاوند په لاس کي زر اودرهمونه
ژوبور ورله ورځي وينا يي اوري　　　د درهم خاوندان تل وي په وياړونه

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-19

که درهم ئي ځنی ورک سو،سي نتلي    پر نړئي وي په خړو پېژندونه
که بډای سونی و بولي خلق وائي    دا وینا ده رښتیا ینه له رښتونه
که بي وزلی و وایي رښتیا خبره    نورو و وایي دا سونی دی تېرونه
هو درهم شیندي هر چا له لویه برخه    د درهم د خاوند هر ځای پرتمونه
درهم ژبه ده که ځوک ژبور کېږي    ده وسله که ځوک پرې کاندي قتالونه"[۸]

د شعر چي کوم تعریف دئ ، د هغه په بنیاد د هاشم سرواني ژباړه هغه ډول نه معلومېږي لکه څنګه چي د شعري ژباړي اصول دي ،په دې شعري ژباړه کښي په بنیادي توګه شعریت نه ښکاره کیږي ،شعریت کوم چي په نظمي ادب کښي مهمه ونډه لري ،

"خیال د لطافت بغیره جذبه د صداقت بغیره وزن د شناخته تورو بغیره خو شعر سازولای شي مګر شعریت نهٔ شي پکښي پیداکولای ـ شعریت هغه خوند ته وا ئي کوم چي انسان په وئیلو مجبوره کوي ـ حسن موجود وي خو په حسن کښي ادا راوستل سړی پر کتلو مجبوره کوي هم دا رنګه زما په خیال دا درې توکي په شعر کښي شعریت پیدا کوي " [۹]

نړیوال د شعر تعریف چي تر کومه حده پوري دی د هغه په تناظر کښي په دغه مذکوره ژباړه باندي د شعر ذوق لکه څنګه چي په کار وي تر هغه حده پوري نه پرې ماتیږي ، خیال لري ،خو د خیال سره خوږلت نه لري ، شعري جذبه نه په کي ښکاره کیږي ،د الفاظو تړل یې څه سختوالی ښکاره کوي ، که څه هم داسي نوري نیم ګړتیاوي لري خو د ژباړي خیال هم کم پرې کېدائي سي ولي چي په نظم کښي یې یوه موضوع په داسي انداز ځېړلې ده ،لکه چه د شاعر خپل تخیل وي ،په پښتو ژبه کښي د امیر کروړ وروسته هم د غه اشعار په پښتو ادب کښي وجود لري ،چي تقریبا سنه یې د درې سوه (۳۰۰) شاه خوا جوړیږي ،د هم دعصر د شعر انداز بیان هم په داسي ډول وو ،په ترکیبي انداز د عربي اثرات په کي جوت دي ،په عروضي ډول د عربي سره مشابهت لري ـ

"لومړی دوره خو له ابتدا څخه بیا تر نهم هجري قرن پوري ده ،چي په هند کښي د مغلو او په ایران کښي صفوي کورنی پاچهي وه ،تر دغه د مخه د پښتو اشعار ټوله طبیعي او غیر مصنوعي وه او هغه سندري او نورې وې چي د طبیعت تر اثر لاندي په پښتنو ویلې " [۱۰]

دلته د مصنوعي څخه مراد هغه ډول شاعري چي د صنعت (چي د شاعری خپل مخصوص علم دئ ) په اړه د علم څخه لیري دي ،مطلب په پوره ډول د صنعت ، عروض او قافیې تر اثر لاندي سوې نه وي ،جدید چي کوم علم دئ د شاعری د جوړښت په حقله د هغه په زاویه د لومړي دور په خصوصي

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-19

توګه د هاشم سرواني ژباړه د شعر په هغه تله نه پوره کيږي ،کوم ته چې موږ په شعر کښي شعريت وايو ،خو د وخت او زمان د شاعرئ په بنياد پوره ده ۔

په تحقيقي اساس يوه بله پوښتنه پيدا کيږي هغه دا په دا وخت کښي فارسي ادبيات هم شتون لري او د فارسي ادبياتو څخه د ژباړي پيل ولي نه دی سوی ۔ د دې برعکس په معنوي او په فني لحاظ په دو واړو سره د عربي ژبي اثر باندي سوی دی ،نور وجوهات به هم لري خو بنيادي سبب يې دا دی چې عربي د پښتنو د مذهب ژبه وه ،نو ځکه يې پر پښتو شاعري باندي خپل اثر په پوره ډول ښېندلی دی ۔

"د اسلام د دين د راتګ سره چې څومره اسلامي احکامات و ، هغه پۀ عربي ژبه ۇ ،پښتانه مجبور شول چې اسلامي اساساتو پېژندني او زده کولو لپاره عربي علومو ته مخه کړي ،پۀ همدې اساس ئې د عربي ژبي او ادب سره هم بلدتيا پيدا شوه ،عربي ليکدود ئې زده کړو او د پښتو ژبي ټول متون پۀ عربي ليکدود واوښتل ،همدا لامل شو چې د وخت شاعرانود عربي بڼايه ادب لار ونيوله "(۱۱)

په دغه وخت کښي پښتنو اديبانو غوښتل چې په اسلامي دائره کښي دننه ديني او عصري علوم زده کړي ،په دې وخت کښي عربي ژبه يوازي يو د ژبي په اساس شهرت نه درلود بلکي مذهبي اغېزه ښخي په کي زياته وه ، په هم دې تناظر کښي عربي ژبه زده کول يو مهم علمي جز وګرځېدئ ،او بله مهمه خبره دا هم ده چې په دغه وخت کښي اکثره علوم په عربي ژبه وو ،که چا غوښتل چې علم حاصل کړي هغه به ارو مرو عربي ژبه زده کوله ،

"د دې علت هم دادی چې عربي په دغو وختو کې د پښتنو ديني او درسي ژبه وه او که به چا له علمه سره مينه درلوده ،هغه به طبعا عربي زده کوله ،ځکه علم يوازي په عربي ژبه کې و "(۱۲)

له دې ژباړي څخه مخ کښي زموږ په لاس کښي داسي څه نسته چې په بنيادي توګه د اوليت په اړه تکيه وربانديِ وکو ،خو بيا هم ځيني ليکوالان د لومړۍ دورې څخه مخ کښي هم بله ادبي دوره تېره سوې ګڼي خو متاسفانه د هغې دورې په اړه څه کلک مواد په لاس کښي نه لرو ۔

"ځينو مورخينو پۀ پښتو ادب کښي تر لرغوني دورې د مخه د (خورا لرغوني دوره ) په نوم هم يادونه کړې ده ،چې وايي د دې دورې د اثارو او اشعارو هيڅ نمونې پۀ لاس نشته او د ناتارونو او تاړاکونو يا د وخت پۀ تيارو کښي يې معلومات ډوب دي ۔ (۱۳)

دخورا لرغوني دورې په اړه چې کومه خبره کيږي هغه يوازي تر اندازې پورې خو صحيح دئ ،مګر په بنيادي توګه د مضبوط بنياد په ډول په ادبي حواله داسي يو مواد په لاس کښي نه لرو چې زموږ دا دعوه په ثبوت بدله

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-19
ماخذ تحقیقی مجلہ

سي ـ خو په خاص ډول ژباړه په پښتو ادب کښي د لومړي دور و پښتو ادب ته هغه پېرزوينه ده چي د پښتو ادب د ژباړي مينار تکيه وربانديي کوي ،د هاشم سرواني وروسته چي کوم ژباړه په هم دي دور کښي په مخه راځي هغه د زرغوني کاکړي د فارسي ژبي د شيخ مصلح الدين د بوستان پښتو ژباړه ده چي د لومړنی ژباړي څخه رواني په کي زياته ده ،که څه هم تاريخ نور د زرغوني په اړه هم څپه خوله دی چي علمت يي څو وو ،کوم کوم کتابونه يي وئيلي وو خو د ژباړي څخه يي دا معلوميږي چي نوري ژباړي بې تر نظر تيري سوي دي ،خو د دې هر څه معيار او بنياد د سرواني ژباړه ده ،د نور تحقيق څخه کېدائي سي چي کوم دوره چي موږ د خورا لرغوني دوري په نامه يادوو ،نوي نوي آثار منځ ته راسي او د پښتو ادب دا ورک تاريخ نور هم په ځلانده سي ـ

حوالي

١: سيدي ،سيد نظيم ( ١٣٩٨)ژبنی او ادبي څېړني ،کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځی پښتو څانګه ، هاشمي خپروندويه ټولنه کابل ،مخ ٢٩٥
٢:روهي ،محمد صديق ،(٢٠٠٥) ،د پښتو ادبياتو تاريخ دويم ټوک ،د محمد صديق روهي فرهنګي ټولنه ،دانش خپرندويه ټولني تخنيکي څانګه پېښور ، مخ ٣١
٣: عابد،عبداللہ جان،(٢٠١١)،پشتو زبان وادب کی تاریخ،یونیورسٹی پبلشرز افغان مارکیٹ قصہ خوانی بازار پشاور ،صفحہ ٤٨١
٤:غني ،سيد غني (١٣٩١ ) پښتو لرغوني شاعري ،مومند خپرندويه ټولنه جلال آباد ،مخ ٦١
٥: داود ، محمد هوتک بن ،(١٣٣٩) ،د پوهني وزارت د دارالتاليف رياست افغانستان مخ ،١٩٢
٦: داؤد ،محمد ،(٢٠١٦، ٢٠١٥ ) پښتو شاعری ته د عربی او فارسی نه راغلي اصناف يوه تحقيقي او تنقيدي جائزه ،پي ايچ ډي مقاله ،پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي ،غير مطبوعه ،مخ ١٣٩
٧:غني ،سيد غني (١٣٩١ ) پښتو لرغوني شاعري ،مومند خپرندويه ټولنه جلال آباد ،مخ ٦٣
٨: داود ، محمد هوتک بن ،(١٣٣٩) ،د پوهني وزارت د دارالتاليف رياست افغانستان مخ ،٦٠
٩: سيماب ،ډاکټر نصيب ا لله ،( ٢٠١٩) د کره کتني اصطلاحات ،پښتو اکېډمی بلوچستان کوټه ،مخ ٢٤٥
١٠: حبيبي ،عبدالحی ،(١٣٨٦) شل مقالي ، علامه رشاد خپروندويه ټولنه ،مخ ١٩٠

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-19

۱۱:داؤد ،محمد ،(۲۰۱۶، ۲۰۱۵ ) پښتو شاعرئ ته د عربئ او فارسئ نه راغلي اصناف یوه تحقیقي او تنقیدي جائزه ،پي ایچ ډي مقاله ،پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي ،غیر مطبوعه ،مخ ۱۴۲
۱۲: حبیبي ،عبدالحی ،(۱۳۸۶) شل مقالي ، علامه رشاد خپروندویه ټولنه ،مخ ۳۵
۱۳: داؤد ،محمد ،(۲۰۱۶، ۲۰۱۵ ) پښتو شاعرئ ته د عربئ او فارسئ نه راغلي اصناف یوه تحقیقي او تنقیدي جائزه ،پي ایچ ډي مقاله ،پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي ،غیر مطبوعه ،مخ ۱۳